# هغه سيالي چې نړۍ ګواښوي



سرچينه: د ايکانوميست مجله

نېټه: د ۲۰۱۱ کال د مۍ ۱۹ مه

ژباړه: نوروهاب ځپاند

د "جهادیانو"، "طالبانو" او هستوي وسلو په لور د پاکستان خطرناکي ليوالتيا د هند انديښنې زياتې کړي دي .

بهرنيانو او په ځانګړي توګه هنديانو هغه وخت ډېره ناهيلي وښوده کله چې د پاکستان په غوره پوځي مرکز ايبټ اباد کې اسامه بن لادن ووژل شو. پاکستان داسې واکمني ده چې هم د اسلامي توغمناکو (متعصبو) سره جګړه کوي او هم يې خوندي ساتي. په داسې حال کې چې پاکستانيان په خپله ددغو "جهاديانو" د يرغلونو اصلي قربانيان دي، ليکن واکمنې پاتې راغلي چې عمل وکړي .

د مۍ په ۱۳ مه هغو ځان وژونکو چې د القاعدي ګروپ پوري تړلي وه، پاکستاني طالبانو، په شمال لويديز ښارګوټي شبقدر کې د ۸۰ تنو په شا و خوا کې ځوان پوځي زده کړې ووژل. دا يرغل د بن لادن د بدل اخستو په نامه وشو چې اغيز يې عمومي خواشيني را پورته کړه. په اسلام آباد کې د امريکا سفير Cameron Munter په دې هکله ځرګنده کړه «که په کور کې مارانو ته پالنه ورکوئ، بيا به چيچل کيرئ»

په اوسنۍ لحظه کې پاکستان نيغ په نيغه تيار دی چې د سخت دريځو په وړاندې د امريکا سره همکاري وکړي، دا خبره د امريکا د سنا د بهرنيو اړيکو د کميټي رئيس (جان کيري) وکړه. هغه په دې وختو کې د کابل د لاري اسلام آباد ته ولاړ او د پاکستان د پوځ سرلښکر (اشفاق کياني) سره يې د

www.esalat.org

ځلورو ګړیو لپاره مرکه درلوده چې په ترڅ کې یې د دوه اړخیزو ستونزمنو اړیکو د بیا سمیدو دعوه شوي. په دې لړ کې پاکستان به د پټکارۍ د هغه هلیکوپټر پاتیشونې بیرته امریکا ته سپاري چې په ایبټ اباد کې د چپاو په وخت کې د اور لمبه شوه. همدارنګه د امریکا د بهرنیو چارو سکریټري Hillary Clinton به په راتلونکو څو اوونیو کې له سیمې څخه خپله لیدنه ترسره کوي.

د اهمیت وړ خبره داده هغه امریکایي چغلګر، چې یو کال ړومبی به یې د ښارګوټو په تیاره کونجونو کې مدرسو ته د کمین نیونې په مهال بیله دې چې خپلو پاکستاني سیالانو ته څرګنده کړي چې په څه پسې ګرځیدل یو ځلي بیا د پاکستاني پوځې ټک و پوک آي ـ اس ـ آي سره، کارکول پیل کړي. په احتمالي توګه به د «خورا اهمیت لرونکو موخو» لکه د القاعدي د مرستیال (ایمن الظواهري)، د افغان طالبانو د مشر (ملا محمد عمر) پر ضد د رسمي ګډو هڅو په بنه د درنو ګزارونو د ورکولو تابیا کیږي. له دې کبله د پورتني هوډ له مخې په ډیره بیړه د میٔ په ۱۷ مه پاکستان د یو لړ پایلو اعلان وکړ چې: پوځ په کراچۍ کې Yemeni د القاعدي جګپوړی عملیات کوونکی نیولی.

ډیر پاکستانیان نه شي کولاي پیښې هغه ډول ووینې چې امریکایان یې کوي. د نمونې په توګه په ایبټ اباد کې د بین لادن د شتوالي په هکله لږ دلچسپې څرګندوي، اما په آسانۍ سره د امریکایي ځواکونو کوزیدلو هلته بیا ډیر اندیښمن کړي. د چپاو څخه یوه اونۍ وروسته د پوښتنو ړرویږنو د یوي سروي پایلو وښودله چې د ۲۵۰۰ تنو له جملي څخه یوازي ۲۶ په سلو کې دا منې چې بن لادن وژل شوی. لږ تر لږه نیمایي ۴۹ په سلو کې دا پیښه جعلي بولي او یو شمیر زیات کسان وایي که بن لادن مړ شوی هم وي، په هر صورت هغه شهید دی. ۶۸ په سلو کې ډیر اندیښمن وه چې بهرنیانو د پاکستان په ملي حاکمیت تیری کړی دی.

د ایبټ اباد پیښه ځکه ډیره خوا شینونکې وه چې د ښارګوټې ځایونه د هند تر ولکې لاندي کشمیر ته نږدي پراته دي، دا په فرضي توګه هغه پوله ده چې ښه ځارل کیږي. عادي پاکستانیان په اندیښناک حالت کې اوسیږي چې هندوستان تر اوسه ددوي د هیواد د شتوالي د شرایطو سره موافقه نه ده کړي او ښایي یوه ورځ په ساده ډول ورو ورو را دننه شي. دا د حیرانتیا خبره نه ده چې د بن لادن د انګړ پوري غاړي ته کور کې اوسیدونکې د چپاو په هکله وویل: «موږ په لمړي وار داسې انګیرله چې ګواکې هندیان یرغل کوي» .

د پاکستان د پارلمان په ګډه غونډه کې چې د میٔ په ۱۳ مه وشوه او د پوځ سرلښکر په کې برخه درلوده ربښتوني اندیښنه د هندوستان په باب مطرح وه. د هندوستان د پوځ سرلښکر په احمقانه توګه د بن لادن پر خلاف د چپاو نه وروسته باتې وویشتي چې د هغوي ځانګړي ځواکونه د ورته پیښو د پلي

کولو وس لري. د هغه په غبرګون کې د پاکستان د استخباراتو مشر احمد شجا پاشا د پارلمان غړو ته وویل چې پاکستانی پوځ نه یواځې د هندوستان په دننه کې د غچ اخستلو په موخه د هدف د کوبلو وس لري بلکه په وارو وارو په هغوي ګزارونه هم کولی شي.

د "جهاد" ګټورتوب؛

د ټولو ګواښونو د شتوالي سربیره، د پارلمان غړو د بن لادن په هکله په پوښتنو او ږوېړنو سر ونه ګراوه. دوي ښایي ویاړ کاوه او یا به یې خپل پاکستاني احساس داسې څرګندولو چې "جهادیان" د هغوي د واقعیت په پرتله د کور دننه بې زهرو ماران دي. که دي خبري ته له بلي زاویې وکتل شي، معنی یې داده چې یو کمزوری هېواد بل پیاوړي هېواد ته خپل ځواک ښیي.

د هندوستان نفوس او اقتصاد دواړه د پاکستان په پرتله ۸ چنده زیاتوالی ښیي او چټکه وده کوي. څرنګه چې پاکستان د بل په مرسته او بهرنیانو څخه په خیر غوښتلو متکي دی او له دې لاري خپل پوځ سمبالوي، برعکس هند په دې مسابقه کې یو مرسته ورکوونکی هېواد دی او د امریکا متحده ایالات مینه لري چې د هغه ملګری واوسي. د اوږدې تجربه شوي او په پښو ولاړې ډموکراسۍ په توګه معنوي ځواک لري. د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا په غونډو کې ګډون کوي، د امریکا سره نږدې استخباراتي راکړې ورکړې لري او په کال کې لسګونه بلیونه ډالره په دفاعي چارو لګوي.

د پاکستان د خوندیتوب د نشتوالي اړوند عوامل د کلونو په اوږدو کې د طبیعي آفاتو لکه د ۲۰۱۰ کال د خونړیو سیلابونو د راوتلو او خپل ځانته د صدمه رسوونکو اقداماتو لکه د پر له پسې کودتاګانو د کولو له وجې رامنځته شوي. دا ټول ډېر ژور احساس شوي او دا نوي نه دي. دا ملک په ۱۹۴۷ کال کې د هندوستان د ویش په پایله کې زیږیدلی، هغه ویش چې په زرهاوو زرهاوو مسلمانان او هندوان په کې ووژل شول او په میلیونونو بې کوره شول. دغو عواملو او اسلام د ملت جوړوني د احساس په رامنځته کولو کې مرسته وکړه. مګر د ویش پرهارونو د پاکستان د ژوندي پاتې کېدو ویره پر ځای ساتلې .

د یو کمزوري هېواد لپاره د استازیتوب کوونکو پوځونو او "جهادیانو" په کار وړل ښه نظریه برېښي. د ۱۹۴۷ کال په وروستیو او د ویش د کېدو څخه لږ را په دیخوا سخت طبعیتي پښتانه قبایل په کشمیر را توي شول چې د پاکستان لپاره د هندوستان څخه یوه ټوکړه بیله کړي. کوم ځای پوري چې هغوي ورسیدل تر اوسه لږ او ډېر دا ساحه د کنټرول د لیکې په نامه یادیږي. وروسته له هغې د امریکا په مرسته د پاکستان پخواني حکمران جنرال ضیا الحق په افغانستان کې د شورویانو د پښو د بندولو لپاره هلته "جهادیان" واستول. د هغه وروستي ځای ناستي دیکتاتور جنرال پرویز مشرف په دې وروستیو

www.esalat.org

کي دا ومنله او هر څوک هم پرې پوهېږي چې سخت دريزي به د ستونزو د راولاړولو په موخه هندي کشمير ته ليږل کېدل.

دا څرګنده ده چې د "جهاديانو" افرازول ارزانه او آسانه دي او که کله چارې د خرابۍ په لور مخه کړي د هغو څخه د منکرېدو دروازه خلاصه ده. ددوي په ډلو کې ښايي داسې کسان وي چې په کور او کلي کې د ګډوډيو او فتنې سبب کيږي او يا ښايي داسې څوک هم وي چې د پاکستان د ملي يووالي په پاللو کې مرستندوی وي، ځکه "جهاديان" د اسلام په نامه جګړه کوي. ليکن عامه نظر سنجي کوونکی اعجاز ګيلاني په اسلام آباد کې په ګوته کړي چې، د ملت احساس هند ته د کينې او دښمنۍ څخه ډ ک دی. ډېر پاکستانيان غواړي په بيړه څرګنده کړي او يا د هغو "جهاديانو" فعال ملاتړ وکړي چې په هند کې په عادي او يا ملکي اهدافو بريدونه تر سره کوي، د بېلګې په توګه هغه يرغل چې په ۲۰۰۸ کال کې په ممبيي کې وشو او ۱۷۰ تنه په کې ووژل شول.

هغه محکمه چې د مۍ په ۱۶ مه په امريکا کې پيل شوې ښايي پورتنۍ نظريه ازمايښت ته واچوي. په شيکاګو کې څارنوالانو پاکستانی سوداګر تهور حسين راينا په دې چلند چې د ممبيي د يرغلونو څخه يې ملاتړ کاوه او په هغه کې شپږ امريکايان هم قرباني شول، پړ وباله. حکومتي شاهد لا د وړاندې ويلي وه چې د اې ـ اس ـ اې افسر مجو اقبال د ممبيي د يرغلونو مادي تمويل او لارښوونه کوله.

که چيرې د پاکستانې "جهادي" ګروپونو ناروغه زغم د هندوستان څخه د انديښنې کولو په پايله کې رامنځته شوی وي بيا په افغانستان کې د هغوي د اخلال اچونکې کړو وړو په هکله څه ويل کيدلی شي؟ هغوي امريکا ته لاره ورکوي چې د کراچۍ څخه خپل درې برخې جنګي افزار وليږدوي او په خپله بيا په قبايلي ساحو کې د سخت دريځو په وړاندې د ډرون د سختو غير عادي ګزارونو ملتيا کوي. همدارنګه تر اوسه افغان طالبانو ته مالي لګښت بيلوي، د حقاني په څير د القاعدې سره تړلي ګروپونه چې (په پاکستان کې اوسيږي او افغانستان کې د ورانکارۍ فعاليتونه کوی) د ځمکنيو يرغلونو په ښه مقاومت ته هڅوي او بيا وايي چې په هغو زور راوړي چې د افغاني خبرو اترو د پروسې سره يو ځاي شي.

په کابل کې اوس په بربنډ ډول ددې پته لګيدلې چې د افغان باغيانو د فعاليتونو د زياتيدو تر څټ د پاکستانې آي ـ اس ـ آي لاس دی. څېړونکو په تير کال کې د ۱۲۲۴۴ يرغلونو څرک لګولي وو چې د ۲۰۰۶ کال په پرتله پنځه چنده ډيروالی ښيي. «هغوي چې د ياغيانو سره په نږدې اړيکه کې دي موږ ته وايي چې د آي ـ اس ـ آي په فعاليتونو کې په ځانګړې توګه تيرو ۱۸ مياشتو کې زياتوالی راغلی

دی». دا رپوټ د یو کتونکي له خوا وړاندي شوی چي پخي اړیکي لري. لیکن پاکستان دا نه مني چي دوي په فعال ډول د "طالبانو" مرسته کوي .

هغوي دا هم نه مني چي دوي د امریکا سره په خپل چلند کي دوه مخي دي. بلکي هغوي وایي، چي دوي د امریکایي جګړي د ملاتړ پلوي دي؛ دا نه مني چي د یو ځبر ځواک دښمني خپله کړي. مګر دا ددې مانا نه لري چي دوي دې د امریکا هیلي په افغانستان کي ومني. پاکستانیان په ډانګ پېیلي توګه د بیا بیا لپاره ـ د هند د خطر په بهانه، دلته خپلو څه بل ډول ملي ګټو ته په کتلو بوخت دي.

ځرنګه چي امریکا زیاته هیله لري چي اسلامي سخت دریځي په خپله ولکه کي راولي، یو ډول نظم ټینګ کړي او د خپلو سربازانو د بیرته ستنیدو لاره ګودر بیامومي، برعکس پاکستان نه غواړي پیاوړی افغان دولت چي په کي د تاجکو قومي ګروپ چي له یوي خوا د هند سره عنعنوي ملګرتیا او له بلي خوا په واک کي د برلاسي لرلو ارمانجن دي، لړ په غوښن موقف کي وویني.

د هند صدراعظم Manmohan Singh د مې په ۱۳ مه کابل ته بریالی سفر درلود. هغه د افغانستان په پارلمان کي د هندوستان د اغیزمنې یونیم بلیوني مرستي په اهمیت وګړیدو چي د هغې له برکته سړکونه جوړ شوي، د بریښنا مزي غزول شوي او د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکي پالل شوي. هغه د ۵۰۰ میلیوني نوري مرستي لوز وکړ او د «ستراتیژیکي ملګرتیا» په را منځته کېدو یې خوشالي ځرګنده کړه .

یو لوړ پوړي هندي حکومتي چاراکي وویل: هند په افغانستان کي «د کومي لوبي په وروستي پړاو کي نه دی»، موږ غواړو چي افغانستان یو «منځلاری» او په «خپلو پښو ولاړ» هېواد وي. دا ډول موقف هم د پاکستانیانو د بې باورۍ سبب شوی. که تیر ته ځغلند نظر واچوو ځرګنده ده چي افغانستان د خپل تاریخ په اوږدو کي د پاکستان سره په دښمنی اخته دی؛ په یوازي ځان یې په ملګرو ملتو کي د پاکستان د غړیتوب پر خلاف رایه ورکړه، اوس هم د پاکستان رسمي پولي په رسمیت نه پیژني. په پاکستان کي بیلتون پالي، په تیره بیا بلوچان او همدارنګه پښتانه به زیات را فعال شي که د ځنګ د دروازي روانه جګړه یې پاي ومومي. پښتانه په پاکستان کې لوي اقلیت او په افغانستان کې لوي قومي ډیره کې دی. افغان حکومت هیڅکله د «ډیورنډ لیکه» چي د پښتنو قبایلو په ځمکو ایستل شوي په رسمیت نه ده پیژندلي او د خپلواک «پښتونستان» نظریه تر اوسه د چا د مغزو څخه نه ده وتلي .

پاکستان له دې ویریږي چي د هند او د هغه د ټلوال په ګیره کې را ایسار نه شي. هغه له پخوا څخه هند د ایران او افغانستان دلاري بلوچ بیلتون غوښتونکو ته په مرسته کولو ملامتوي. د پاکستان د آي ـ اس ـ آي یو مامور یوه تیوري وریښلي ده چي په افغانستان کي د هندیانو د سړک جوړوني کار په

حقیقت کې د زيات مقدار چاودېدونکو موادو د پوښولو لپاره يوه بهانه ده، تر څو له دې موادو څخه تروريستان د پاکستان په د ننه کې ګټه پورته کړي، هغوي په احتمالي توګه په ۲۰۰۸ کال کې د اسلام اباد په Marriott هوټل کې چاودنه د داسي فعاليتونو يو جز بولي.

پاکستان له دې کبله د «ستراتيژيک عمق» د لټولو په موخه په افغانستان کې د خپلې اغېزې ښندل غواړي. د ستراتيزيک عمق معنی داده چې هغوي بايد په يوه ساحه کنټرول ولري تر څو هلته د هند سره د جګړې پر مهال د خپلو مشرانو، سرتيرو او آن اټومي وسلو خونديتوب يقيني کړلی شي، او يا په ساده توګه د خپلي پولي بلی غاړې ته ډاډمن ټلوال ولري چې په خليج کې د هنديانو د لاسوهنې د ايسارولو مرسته ور سره وکړي. بله لاره داده چې ښايي پاکستان د يو کمزوري، ويشلي افغانستان او يا هم يو ځلي بيا لږ تر لږه په يوه برخه د يو منونکې پښتانه استازي د واکمنی د ليدو مينه ولري. همدارنګه ځينې جنرالان بيا وايي چې دوی "طالبانو" ته ډير ليوال نه دي، اوس بيا وليدل شي چې دوي نور څه پسې لګيا دي .

وسله بند او ډارونکی؛

د هند په اند د پاکستان د پايښت ويره مبالغه آميزه ده، دا ويره د خلکو د ډارولو په موخه پوځ را ولاړه کړي ده. دې مطلب ته په اشاره هند وايي چې هيڅکله تيری کوونکی نه وو. آن داچې په ۱۹۷۰ کال کې له يو څه ځنډ وروسته هند د پاکستان د دوه برخې کولو د اسانتيا په موخه لاس اوږد کړی وو. دا ځکه چې په ختيځ پاکستان (اوسنی بنګلاديش) کې د پوځ له خوا په ملکيانو زړه بګنونکو تيريو، د هغوي زورونو او د کډوالو سترو ډله ايزو بې ځايه کېدنو داسي ګامونو اوچتولو ته زمينه برابره کړه. هنديان وايي، د پاکستان د بې ثباتی ولی د هغوي په خپله ليونتيا کې پرتې دي. ام، جې اکبر هندي بليغ ژورناليست او د پاکستان په هکله د نوي کتاب ليکوال په لنډو وايې چې پاکستان يو خطرناک، ژر ماتيدونکی اود «زهرجنې جيلي يا مربا دولت» دی. هغه په عمده ډول، پوځ د ډيرو سرکښنه تصميمونو د نيولو په اړوند چې خپله برلاسي وساتي ملامتوي. هغه زياتوي «پاکستان د تضادونو په داسې يوه ټولګه کې خوښيږي چيري چې په عمده توګه دا منطقي کوي چې د بقا لپاره بايد کړه وړه د موسسو د اړتياوو پرغمل وي».

د پاکستاني ليبرالانو په ګډون ډيری نور زياتوي چې، پاکستان نه شي کولاي ځان د هغو پوځيانو څخه و ځنډې چې د هندوستان له لوري بيرول شوي دي. يو له دوي څخه ځرګنده کړه چې «موږ وسوسې او روحي رنځ نيولي يو، ويره لرو چې ځرنګه د نوري نړۍ څخه ځانونه بچ کړو». د هند يو جګپوړي امنيتي مامور وويل چې پاکستان تر اوسه د پوځ له خوا د دولت چلونې د اړتيا په کچه کې

دی. دا د نړۍ اووم لوي پوځ د دولتي بودجې د شپږمې برخې شيره زبيخي او د عامو خلکو پروا نه کوي.

دا هيبت کول به کافي وي، اوس راشئ دا وڅيړو چې پاکستان څه ډول د خپلو اتومي وسلو د پرمختګ په لټه کې دی. دا پروګرام په ۱۹۷۱ کال کې کله چې په سرڅوړي توګه ختيځ پاکستان د لاسه ووت، رامنځته شو. يعنې پاکستان ته د هند له لوري د ړومبنۍ ماتې ورکونې د مهال په شا او خوا کې د پاکستان د بهرنيو چارو پخوانې وزير ذوالفقار علي بهټو په ډاګه کړه: «که چيرې هندوستان بمب جوړ کړي، موږ به د زرو کلونو لپاره واخه او پاڼې وخورو، وږي به پاتې شو، ليکن خپل بمب جوړولو ته به لاسبرۍ پيدا کوو».

پاکستان ښايي اوس د ۷۰ څخه تر ۱۲۰ پورې اتومي وسيلې ولري، او امکان لري چې په غير عادي حالتو کې دهغې استعمال ته زړه ښه کړي. ځينې په غرب کې په دې باور دي چې د ۱۹۹۹ کال د کارګل جګړې په نيمايي کې پاکستان د اټومی کوپړۍ لرونکو مزايلو تياري هم پيل کړي وه. دا جګړه د هند پر خلاف د پاکستان له خوا پيل شوي وه او د کشمير د پولې په هغه برخه يې يرغل کړی وو چې د سګنالونو په وسيله کنټروليږي.

هيڅوک په دې کې شک نه لري چې د هند له لوري د انديښنو په ګرداپ کې راګير شوی پاکستان ډيره هڅه کوي چې زيات څه په لاس راوړي. د هغه هېواد اټومي کوپړۍ د داخلي تصادفي احتراق سيستم لري، د ۱۵ نه تر ۲۰ کيلو ګرامه زياتو غني شوو يورانيمو څخه چې جامده او سخته طبقه لري جوړې شوي. پاکستان په کال کې د ۱۰۰ کيلو ګرامو په شا او خوا کې يورانيم توليدوي او د چينايانو په مرسته د هغې هستوي جوړښت په چټکۍ غزول کيږي. د داسې توليد د پيل کيدو له وجې د نورو وسلو نرخونه بيخي رالويدلي. پاکستانۍ هستوي فزيک پوه Pervez Hoodbhoy وړانديز کوي چې «تاسو کولای شی تقريبا د ۱۰ مليونو امريکايي ډالرو هستوي کار ولرئ او يا په اسلام اباد کې د ښې ښايسته لوي مانۍ لګښت» .

دغه نوي پراختيا ښايي د هغه بلې غاړې د دوه نوي پرمختياوو په وړاندې يو عکس العمل وي، يعنې پاکستان په معنوي لحاظ هله زيانمن شو کله چې په ۲۰۰۸ کال کې هند د امريکا سره د ملکي موخو لپاره د هستوي انرژۍ تړون بشپړ کړ. دغه تړون نه يوازې داچې امريکا او هند سره نږدې کړل، بلکه هند په نړيوال مارکيټ کې د يورانيمو د تر لاسه کولو لپاره لاره پيدا کړه او دا ددې معنی لري چې هغه به ډير ژر د نورو بټيو د جوړولو تکل وکړي. پاکستان په وارخطايي سره انګيرې چې هند به په پرله پسې توګه هر کال ۲۸۰ هستوي وسلې توليد کړي .

www.esalat.org

بل بدلون د دوکتورينو او ليږد په هکله دی. هند له لمړي سره څخه دا موقف خپل کړی چې د هستوي وسلو «لمړی استعمالونکی» به نه وي. برعکس پاکستان د کمزورو نظم منونکو ځواکونو د درلودلو له وجې دا نه مني چې د هند په وړاندي د هستوي وسلو د کارولو څخه ډډه وکړي او اوس داسې ګامونه پورته کوي چې د «لمړي استعمال» امکان يقيني کړلاي شي. تيره مياشت نومورړي هېواد نوی توغندی د Hatf IX په نامه و ازمايلو، دا توغندی ۶۰ کيلو متره واټن وهلی شي او د جګړه ايزو موخو لپاره دی. دوه توغندي د ليږدونکي وسيلي د پاسه په تيوبونو کې وړل کيږي او د لنډې خبرتيا وروسته ويشتل کيږي. ددي توغنديو کوپړی وړي دي، نيمه کنټرول کيدونکي وسيلي دي د لويو ټانکونو د له منځه وړلو توان لري او د جګړي د ډګر په چار چاپيره د ورانی پيښولو او وړانګو اچولو محدوده ساحه لري .

پاکستاني جنرالان وايي، بنايي د هند د Cold Start دوکتورينو څخه چې په ۲۰۰۴ کال کې مطرح شوي ددوي تاکتيکي وسلي خطر وموم‌ي، دا دوکتورين د پاکستان په وړاندي يو بشپړ جزا ورکوونکی غير طبيعي حالت را منځته کوي. د تاکتيکي هستوي وسلو بې اغيزي کيدل پاکستان د بې ثباتی د ټکانونو سره مخ کوي. تيري هڅې ټولي ددې لپاره وي چې کټونکي داډ من شي چې اټومي وسلي د تروريستانو او د پوځ د بې لاري افسرانو په لاس ورنه شي، اټومي کوپړیَ او د ليږد سيستمونه بايد ځانګړي ځاي کي خوندي شي او هغه بايد په اسانۍ ونه کارول شي، د هغو څخه کار اخستل بايد د ملي دفاع د قوماندانی د واک لرونکو (د نظر يووالي) ته اړتيا ولري، دا ډول قوماندانې بايد د بيلا بيلو وزيرانو، د دري واړو واحدونو د مشرانو څخه چې لمړی وزير يې په سر کې وي جوړه وي.

د جګړي ډګرونو ته د تاکتيکي هستوي وسلو نږدی تعبيه کول نوي زيانونه زيږولی شي. د قوماندي او کنټرول ټړونونه بايد نرم او استازيتوب کوونکې وي. که چيري د هند د غير مترقبه يرغل په وړاندي د جګړي د ډګر افسران مخامخ شي، دوي بيله دي چې خپلي اټومي وسلي يا له لاسه ورکړي او يا يي وکاروي بله لاره نه لري، پر پوله ناڅاپي يرغل بايد د ډيري غتي او مرګوني پيښي په توګه و ارزول شي .

د ډزو پر ځاي خبري کول؛

په پوله باندي د ستونزي شتوالی تيوريکي مشکل نه دی؛ دا يو عمومي ځاي دی. په دې نږدي وختونو کې د کشمير په برخه کې د هند او پاکستان په پوله د ډزو له کبله يو هندي سرباز مړ شو. داخلي دا عمل ډير ونه ارزول شو ځکه چې هند او پاکستان دواړه د ديپلوماتيکو هڅو په منځ کې قرار لري. ليکن د هند لمړي وزير Mr Singh خپل امنيتي مسوول ته د مسالي د څيړلو لازمه لارښوونه کړي.

په هند کې ځيني کسان هڅه کوي چې د پاکستان سره کرکيچ لږ شي. مستر سينګ د هند په هغه برخه کې نږۍ ته سترګې خلاصې کړي چې اوس د پاکستان په قلمرو کې راځي، هغه غواړي چې دا ستونزه ليري شي (دده په حکومت کې يو شمير او يو لږ ناري وهونکي اپوزيشن ګوندونه مخالفت کوي). هغه سږ کال «د کرکيټ ديپلوماسي» په کار واچوله او خپل سيال يوسف رضا ګيلاني ته يې بلنه ورکړه چې په نړيوال کرکيټ کپ کې د هند او پاکستان لوبه وګوري. هغه د سوداګرۍ، اوبو او تروريسم ضد مسالو په هکله دوه اړخيزه خبري اتري هڅوی، ښايي دا خبري د څو مياشتو په دننه کې د بهرنيو چارو د وزيرانو په کچه وشي .

د پاکستان په ملکي خوا کې هم داسې مينه تر سترګو کيږي چې خبري دې وشي. د کشمير لورته دا څو مياشتې کراري مالوميږي، ښايي دا موسمي وي. نواز شريف چې د مخالف ګوند مشر دی په ١٩٩٩ کال لمړی وزير وو، هغه دې ته نږدې شوی وو چې د هند سره د سولي موافقه وکړي او د مۍ په ١۶ مه يې زړورتوب وکړ او ويې ويل، پاکستان هلته وده کولای شي چې د «لوي دښمن» په نامه د هند د ډارولو څخه ډډه وکړي. په جنجالي توګه يې د پوځ په بودجه کې د کمښت راوستلو اعلان وکړ.

بد ګومانه ټالی خوړونکی جنرال کياني په دې وروستيو کې په اسلام اباد کې يوه ديپلومات ته ويلي وه، ما د هند سره د سولي د هڅو ملاتړ کړی. اما په حقيقت کې هغه په دې هکله ډير لږ څه کړي. پوځ لږ تر لږه ددې سره مينه لري چې د هند د ګواښ معما ژوندۍ وساتي او په دې توګه څپل امتياز او پړ سيدلي بودجه خوندي کړي .

په ځانګړي توګه دير شيان خواشينونکي دي. خبري کول، يوازي موافقه ښودل ښايي په ساده ډول تروريستان بلي بيرحمۍ کولو ته وهڅوي. په امريکا کې د پاکستان پخوانۍ سفير جنرال محمود علي دورانۍ چې د سولي د خبرو ملاتړ کوي داسې احساسوي چې پوځې بې امنيتې ډيره غټه ستونزه ده. هغه زياتوي «زه فکر نه کوم چې موږ الوزو. امنيتي اجزاوي په نظر کې ډير بې زړه توب کوي. دوي فکر کوي چې هند به هيڅکله پاکستان ونه منې، که لږ چانس برابر شي هند به هغه را وپرزوي».

www.esalat.org